سلطان جان کلیوال
۲۰۱۹/۰۵/۲۰

# هسی ژوند:

هسی ژوندون غواړم، چی د کرکې پکی نوم نه وی
جوړ وی ټول د مینې نه، نفرت پکی معلوم نه وی

وینــه وي سـړه پکي، جزبات پکی ســاړه نه وی
ټول رنګونه ښکلی وي، د رنګ پکی مفهوم نه وی

ژبې سـره خـویـنـدي، مـذهـبونه سره وروڼه وی
هر سړی سخي وی، یو سړی هم پکی شوم نه وی

شــپه کی هم انصاف وی، او رڼا لکه د ورځی وی
وران پکی کوم کورنه وی، بی موره کوم ماشوم نه وی

پټ پکی هرڅوک وی، د اخـلاقو په لبـاس بانـدی
نه وی بی هـویتـه څوک، اوهیڅ سـړی بی نوم وی

داسي یو ژوندون چی، په هرزړه کی کورد مینی وی
ټول پاخه فکرونه وی، هیـڅ فکر پکی اُوم نه وی

ځمکه یو لوی کلی شي، او خوښ وی کلیوال پکی
ظـلـم وی نابــود پکی، او څوک پکی مـظـلـوم وی

می/۱۸/۲۰۱۹
مارکم ـ تورنتو – کاناډا